پروفیسور خالق رشید

۲۲ اپریل ۲۰۱۷

"SAVE ME FROM MY FRIENDS!"

ددیورند :

توره کرښه

یوه انګریزي غیرانساني هڅه

لیکوال : دوکتور عبدالخالق رشید

نهروپوهنتون - نوی ډیلی

" ...that Pashtuns on both sides were inseparable. In July 1947, a month before the partition and independence of the subcontinent, the then Afghan government informed the British government that the tribesmen in the tribal areas wanted to dissociate themselves from India." (ttps://www.quora.com/What-is-the-Durand-Line-in-Pakistan)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دریـــــم څـــــپرکی

یوه تــاریخي وینا ، یوه تــاریخي تیروتنه

یوشمیر وایی چې :

امیرعبدالرحمان د دیورند جوړجاړلیک نه دی لاس لیک کړی ؟

دافغانستان دمعاصر تاریخ په پاڼو کې ډیرې رښتیا خبرې داسې هم دي چې په زیاترو وختوکې هغه دیوشمیر روا اونارواعواملو له مخې تراوسه هم دمصلحتو قربانۍ شوې ، یاغلطې تعبیر شوې اویاهم نه دي ویل شوې ، همداده چې موږ ډیرځله رښتینې خاینان خادمان شمیرلې اورښتینې خادمان مو په درواغو تورن کړي دي ، داسې چې دهغو له مخې راتلونکو هم جرآت نه دی کړي چې ددغو درواغوپلټنې وکړي ، داسې چې یایې ومنې اویایې هم رد کړي ، له ډیرو زیاتو کسانو څخه مو تاریخ ولوست ، له ډیرو ښوپوهانو څخه مود افغانستان دتاریخ په اړه جالبې خبرې واوریدې ، خو هریوه خپله خپله خبره او نظریه درلوده چې په زیاترو وختو کې یې یوازې دهغې لپاره یواړخیزتبلیغ کله خپل اوکله هم تاریخي حق باله ، چې ان تراوسه هم دغه لړۍ دیولړ حقایو اویوشمیر کسانو په اړه ددول ډول لیوالتیا وله مخې روانه ده ، تراوسه هم موږ نه شو کولای دخپلو تیرو په اړه خوله خلاصه کړواو هغه څه چې پردغه خاوره تیرشوې او یا اوس روان دي په رښتیاني تحلیل اومنطق سره دخپلوخلکو اویانورونړیوالو ترغوږ ورسوو. په دې نژدې وختو کې په زیاترو لیکنو او اوسنیو بازاري امریکاجوړوکړیو افغاني مطبوعاتو کې داخبره ترسترګوکیږي چې ګواکې د دیورنددکرښې پرنامنلواسنادو او نقشو باندې دامیرعبدالرحمان لاسلیک نشته ، ځکه نو دمنلو وړنه دي . زه په دغه اړه خدای شته یوڅه اندیښمن یم ځکه چې موږ له داسې لیکوالو څخه چې دتاریخ په اړه مسلکی او یا اماتوري لیکنې کوي کله هم داهیله نه لرو او نه یې ترې کوو چې موږ ته دې دهرڅه په اړه خپلې خبرې که دروغ هم وي د خپل بې منطقه منطق په نامه ووایی اویایې پرموږ ومنې . زموږ یوشمیرتاریخ لیکونکوتراوسه پورې پرته له دې چې دیوې موضوع په اړه دقیق اسناد ولولی پرموږ خپل هوایې نظردتاریخي واقعیت په نامه کله منې اوکله یې هم تپې ، په داسې حال چې اوس داکارپه علمي لحاظ دتاریخی مسایلو په اړه وړنه دی، علم او حقایق او دهغو وروستي تحلیل دا پایله را په ګوته کوي چې له امیرعبدالرحمان څخه ملي اتل نه جوړیږي ، ددې پرځای چې هغه ته مصنوعي اودرواغجن شخصیت ورکوو ښه به داوو چې دهغه اصلي څیره ، څه چې ده دخلکو او تاریخي قضاوت په وړاندې کیږدو، نه داسې چې دخپل یوه مورخ له خوا هغه هم داسې چې په دغه اړه یې تحصیلي تیزسونوهم لیکلي وي له خولې له واقعیت څخه لرې خبرې اورو اوبیا وربانديې ویاړو، کیدای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شي په دغه اړه مو په اوسنۍ علمي نړۍ کي دعلمي قناعت او قضاوت پرخلاف ځان غولولی وي . موږ له خپلورښتیانیو لیکونکو څخه کله هم داهیله نه لروچي هغوی دي موږ په داسي څه چي علم یي نه شي زغملی دیوه موقت وخت لپاره خوشاله وساتي ، موږ باید دیوه هراړخیزعلمي تحلیل په پایله کي یوڅه د علمي قناعت په نامه ومومو اوبس .

په دغه لیکنه کي زما هدف دانه دی چي گواکی زه دعبدالرحمان خان پیژندني په برخه ددغي تاریخي برخي (ایفل) برجونه نړولم ، نه، دهغو (پوهانو) ځانی درناوي به په خپل ځاي وي، خو داچي دا زهرپه هرځای کي خپروي چي امیرعبدالرحمان ددیورند دکرښي پرسند باندي لاسلیک نه دي کړی ، په دغه شان خبرو سره نه یوازي داچي له تاریخ سره لوبي کوو بلکي له خپل ځان اوخپلي پوهي سره هم بي توپیره کیږو. ددغه کار یوه نیمگړتیاداهم ده چي کله زموږ یوشمیراحساساتی یاران دیوه مورخ له خولي همدغه خبره اوري ، اویا په هره غونډه اوناسته کي دعبدالرحمان د زمري توب خبره یادیږي نودوی بیا له اوماچه پرته خولي وي اوان چي دهغه په پټو سترگو ننگه دځان لپاره ویاړبولي .**دوی دا اصل له یاده باسي چي عبدالرحمان خان هم یو انسان دی ،یومجبور انسان دی،هغه ناچار شوی ،هغه غولول شوی، ځکه یي په خپل وخت کي دغه کارته اوړه ورکړه اوداهرڅه چي وو هغه یي پرځان وزغمل او پرملت یي پرته له دي چي ورسره ویي مني وتپل ، چي داکار زیاتره واکمنان ان اوس هم په نړۍ کي په خپله سرتمبگی سره ترسره کوي ، خو څوک نه مني اونه یي ملاتړکوي ...**

زموږ دغه یاران باید ترهرڅه دمخه باید عبدالرحمان خان دیوه ناچارمطلق العنان واکمن په توگه په پورتنیو صفاتو سره وپیژني او دا باید سره ومنو چي عبدالرحمان دغه سند له بدمرغه په خپل نامبارک لاس لاسلیک کړی دی ، دډیرو مهمو اسنادو له مخي خو ظاهرآ داخبره ښکاري چي دغه تش په نامه لوی امیرچي څومره ددغي کرښی دلاسلیک لپاره د لاسلیک کولو پرمهال (۱۸۹۳) له ښه زړه او یاهم له ناچاری ظاهري لیوالتیا ښودلي وه ،زه فکرکوم چي انگریزانوهم دده په کچه لیوالتیا نه ښودلي اونه یي باورو چي افغانان به دوی ددغه تش په نامه تړون لاسلیک کولو ته پریږدي ،په دي چي انگریزان پر دغه مهال دعبدالرحمان خان په فکرکي هم نه وو څه شی چي دشتو اسنادوله مخي ددوی لپاره په دغه ځانگړي تاریخي شیبه کي داندیښني وړ وو هغه داول چي روسان له یوي خوا او افغانان له بلي خوا داسي یوه تاریخي توطیه مني که نه ؟ ځکه زیاتره انگریزی چارواکی تردغه مهاله هم په دي باور وو چي امیر په خپله د روسانو له خوا گمارل شوی څوک دی ، هغه ته یي لاهم د روسانو د اجنټ په سترگه کتل .همداده چي کومه لیواتیا ددغي کرښی په اړه امیرله روسانو سره د نه تړاو پرلامل وښوده دومره انگریزانو نه ده ښودلی . امیردغه سند لاس لیک کړی ، داچي اوس یي ملت نه مني اویایی هغه وخت نه و منلی دابیاهغه څه دي چي ددغي کرښي قانونی ، حقوقي او تاریخي اهمیت دامیرعبدالرحمان خان پرلاسلیک برسیره ترپوښتني لاندي راولي . اوداهغه ټکی دی چي موږ اوس هم دهمدغه ټکي له مخي داخبره کوو چي زموږ ولس هغه وخت داکرښه نه وه منلی ، موږ یي اوس هم نه منو داچي په راتلونکي کي به څه کیږي دابه بیا د راتلونکو رسالت او مسوولیت وي چي دخپل عصرد شونتیاوو په وړاندي به په څه ډول سره لاس پکارشي ، ځکه تراوسه هم په نړۍ کي زور قالب نه لري ، زورحق دی ، کریمیا د اکراین برخه وه خو داده نن په همدغه یویشتمه پیړۍ کي د روسیي برخه شوه .کیدای شي زموږ راتلونکی نسل هم دغه ټکي چي زور ان په اوسنۍ نړۍ اواوسنۍ حقوقي نړیواله هنگامه (دموکراسي) کي قالب نه لري خپل یو ه فرصت ته وگوري اوله یاده ونه باسي .

په هرډول امیر دا سند دملت دارادي خلاف لاسلیک کړ، ددغو لاسلیک کولو په ترڅ اوتحلیل کي موږ دوه لاملونه په گوته کولای شو، یوداچي امیر کله هم دخپلي ځان غوښتني اوخپل واک دساتلو په خاطر نه دملت ارادي ته وکتل اونه یي په دغه اړه ملت وپوښتیده ځکه داخبره دده له اړیکو او کرکتر څخه په ډاگه وه چي په دغه ځانگړي تاریخي شیبه کي نه ده پرملت اونه هم ملت ده باندي باور درلود. دویم داچي امیرغالبآ له نا چاری دومره انگریزپرسته شوی وچي هرڅه هغوی ورته ویلي ، ده فکرکړی چي گواکي هغوی دده جان جاني یاران دي اوله ده سره دروهه اودرغلي نه کوي ،همداوه چي امیرپرځان دومره باور نه درلود لکه چي پرانگریز باندي یي دهري هغي معاملي په برخه کي چي ده ته به یي (ځاني) زیان نه درلود دزړه له کومي باورکاوه او داهغه سیاسي تیروتنه ده چي ده تل هغه په خپله یوویشت کلنه واکمنی کي دخپلي تیروتني په توگه کله هم په پام کي ونه نیوه.

بله دیادوني وړ خبره داده چي یوشمیریاران داهم وایی امیرعبدالرحمان خان افغانستان دمرکزیت خاوند کړ، خوپه دغه اړه بیا دانه وایی چي مرکزیت یعنی څه ؟ وحشت ، بربریت او پرافغان ملت باندي له کچي زیات ظلمونه ، زندانونه ، توطیي او توري څاه گاني دملي مرکزیت نښي کیدای شي ؟ آیا په دغوناوړتیاوواو مظالمو باندي ملی مرکزیت جوړیدای شي ؟ ، په اوسني عصرکي دملت داداري دعلمی بنسټونودجوړولو لپاره قوانین ،جرگي ، مشوري ، دملت اراده اونورهغه څه دي چي باید په یوي ټولني کي دمرکزیت سبب شي، چي له بده مرغه امیر عبدالرحمان خان په دغه برخه کي یوساده گام هم پورته نه کړ، دایوه هوایی خبره ده چي هغه مرکزیت رامنځ ته کړ، سمه ده هغه مرکزیت رامنځ ته کړ ، خو ددي لپاره باید دلیل او لامل په گو ته کړو چي که هغه مرکزیت رامنځ ته کړی وي هغه په کومو ملي اونړیوالو اصولو کي تر بحث لاندي راتلای شي ؟ افغانستان د یوه خپلواک هیواد په توگه نه انگریزانو رامنځ ته کړی و او نه هم عبدالرحمان خان ، دا دافغانان له ډیرو بدو ځانگړنو څخه ده چي کله زوی پرواک شوی ، بیا یي دپلار کاروایی نه دی یادی کړي او که پلار پرواک شوي بیا د نیکه پرهغو باندي سترگي پټي کړي دي ، که شاگرد د استادی درجي ته رسیدلي نو لومړی یرغل یي پراستاد باندي واو د استاد پرحق خو پریږده پرلیکنو او تجربو یي ښه شخوند وهلی خپل چټیات یي ښه بللي او ترځان ښه اومعقول یي په هیڅ شمیرلی دي ، په افغانی اداري جوړښت کي دمرکزیت ا و ملي تمرکز د افغاني تیوری بنسټوال لوی احمدشاه بابا و، هغه په خورا درایت سره یوپړاخ افغاني مرکزیت رامنځ ته کړ، مرکزیت په سیاست او اداره کي دکاغذ پرمخ لیکني ته نه ویل کیږي ، بلکه هغه باید دیوه اجتماعي قرارداد چي په ټولنه کي خپل طبعیی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سیراو ارزښت ولري ، په عامه توګه دخلکو په پراخ شته والي سره ایجاد ، عملي او وځارل شي ، خو دامیرعبدالرحمان تګلاره او دولتي پالیسی دا په ډاګه کوي چې هغه کله هم دیوه سراسري اوملي مرکزیت په اړه په هغه شان لکه چې له احمدشاهی اداري راپه دي خوا راایجادشوی اودهغې لویي امپراتوری میراث و د مرکزیت په ملي او دودیزه مانا نه پوهیده اونه یې عملی کولوته تیارو، که چیرې ده په دغه ایده باندې باور درلودای اویانورو(انګریزانو) دده ددغه چارلپاره عملي لاره چاره برابره کړې وای، دوی به لږترلږه د امیرشیرعلی خان ملي اداره اوهغه مرکزیت چې پرهغه مهال افغانستان په نسبي توګه درلود اویایي بنسټ ایښودل شوی وساتلی وای ، دهغې دورې دنومیالیو مشرانولکه نورمحمدشاه هڅي ، دجبارخیلو مشرانو (ارسلاخان ، معزالله خان ، عصمت الله خان ، تاج محمدخان) رښتین والی ، دوردګو اواندړودمشرانو (جنرال محمدجان خان ، اوملامشک عالم) قربانی او همداسي دهزارروو (شیرعلی خان ، حسین علی خان) او تاجکو (میربچه خان ، سرورخان پرواني) اونورو مشرانو اوقومونو یووالی په پام کي نیول شوی وای او دانګریزانو په اشاره دهغوی سپکاوي نه وای شوی ، باوردی چې افغانستان به هم نن لکه هندوستان غوندې دیوې پراخې دموکراسی او اقتصاي ودې له خوندونو څخه برخمن وای . موږ باید داومنو چې محمدزیو سردارانو (له امیرشیرعلی خان ، غازي امان الله او داودخان پرته) د افغانستان له سیاسي او تاریخي برخلیک سره ډیره لویه جفا کړې ده .ځکه دوی له یوې خوا ددرانی امپراتوری پرتم اوله بلی خوایی دامیرشیرعلی خان د دورې اداري اوسیاسی اساسات چې دنوي عصربریاوه نه وساتل اونه یې په خپل وخت کي عملي کړای شول . همداده چې دغه هیواد تراوسه پورې هم دعبدالرحمان خانی بدمرغیواوګډوډیو ښکارشوی او تراوسه هم دعبدالرحمان خان غوندې پردي پالو واکمنانو دبې پروایيو له امله دنړۍ غوبل ځای ګرزیدلی دی دادهم هغه تش په نامه مرکزیت اومرکزي دولت کاذب احسان دی چې نن هم ددغه هیواد له غره اودښتي همدا یوغږ پورته کیږي چې :

دوړو وړو خدایانودبنده کړم ...

عبدالرحمان خان افغان ملت ته یوه داسي کارنامه هم نه ده پریښي چې پرهغې باید وویاړي ، زه خو هغه په پټوسترګو د اوسني افغانستان ساتونکي نه بولم بلکه په دغه اړه بیا د انګریزسیاست وال هغه خبره لکه چې ما مخکي هم یاده کړې د افغانستان د ژغورنې ، نجات او مرکزي تمرکز یوازنۍ لامل بولم لکه چې وایی : « دافغانستان شته والی دهغه دجغرافیایی موقعیت مرهون دی » اوکه داخبره علمي خبره نه وي ، نو ولي نن له عبدالرحمانی یوه پیړۍ راوروسته بیاهم زموږ وینې یوازې دهمدغه لوی جغرافیایی اهمیت پرلامل د روسانو، چینایانو، خونړیو امریکایانو او ددوی د ناولو متحدینو ، زموږ د حریصو ګاونډیانو له خوا زموږ په خپل وطن کي توییږي ؟ څلویښت کاله کیږي چې په افغانستان کي ملي واکمني ، ملي حاکمیت نشته ، خو دغه هیواد بیا هم ژوندی دی او دغه ملت بیا هم نه ویشل کیږي او نه هم یونړیوال ځوا ک ځان ورته ټینګولای شي چې دځان یې کړي ، وګورئ دغه خبره او زموږ همدغه جغرافیایی موقعیت نن هم زموږ دهیواد د خوندي ساتني ضامن دی. ،موږیوشمیرحقایق که څه هم ترخه دي باید ومنو انسان دحقایقو په ویلو او منلو باندې په ژوندکي دوجدانی آرامی احساس کوي .ځکه خو موږ باید دیوه واقعیت او یا هم یوه جبرله حکم سره سم دامیرعبدالرحمان خان په اړه داومنو چې دافغان ملت پر سینه باندې دبیلتانه دااوسني توره کرښه چې اوس یې دنړۍ دنقشي پرمخ دافغانستان دتش په نامه نړیوالي ؟ پولې چې افغان ملت یې اوس هم نه مني بڼه غوره کړې ده ، دغه نامنلي کرښه دهمدغه امیراو دیورند پرتورولاسونو را کښې کړه شوه اوهغه سرلوړی او امپراتوری جوړونکی افغان پښتون یې په دووبرخوظاهرآ وویشه . ددې لپاره چې په دغه اړه مو پریوه تاریخی سند باندې استناد کړي وي هغه ، هغه ویناده چې پولادي امیر ؟ د دیوند ترتړون یوه ورځ وروسته دخپل عام دربار په وړاندې وکړه ، دهغه عام دربار په وړاندې چې هلته یې دیورند په داسي حال کي چې له ډاره لړزیده او فکریي کاوه چې امیر دی دخپلو خلکو په عام محضرکي شرموي له ځان سره په داسي حال کي چې دیورند نه غوښتل دغه عام محفل ته ځان وروښیی بوت . دا هغه ویناده چې زموږ ټولو تاریخ لیکونکو یې یادونه کړې اروابناد غبار یې یوه لنډه برخه دخپل اثر په (۶۸۹) مخ کي په ګډه وډه توګه پرته له دې چې ماخذیي په نښه کړي راوړې ده ، خوهغه برخه چې له موضوع سره اړونده ده ،هغه یې په دقیقه توګه نه ده ثبت کړې ، کومه برخه چې په افغانستان درمسیرتاریخ کي رانقل شوې ده ، له هغه سند سره چې ما دغه وینا تري راژباړې په جزیاتوکي توپیر لري او یوشی نه ده ، په عین حال کي داهم باید ووایم چې دغه وینا په نوروآثارو کي ما نه ده لیدلې ، ځکه خو ګرانو لوستونکو ته داوایم چې ما ژباړلې وینا او داروابناد غبارهغه ، یوڅه توپیرسره لري . ددې لپاره چې ګرانو لوستونکو دغه وینا په بشپړه توګه لوستې وي دلته یې له انګریزي سند څخه ژباړل شوې متن په ګډه سره لولو:

د امیر د وینا متن

« ترهرڅه دمخه دا اړینه ده چې تاسي اودافغانستان ټول خلک باید دیوې خوښی خاوند او پاسوال وئ ،نن سبا ټول ملتونه اوهیوادونه دخوښی او خوشالی په هیله په هغه لور ګامونه پورته کوي چې هغه دعصراوزمان غوښتنه اواړتیاده ،هغه څه چې افغا نستان نه درلوده اوتراوسه یې هم نه ده ترلاسه کړې . ددغو څوارلسو کالوپه اوږدو کي چې زه ستاسي امیریم ،زما لویه غوښتنه اوهیله په عمل اونظرکي داده چې دلته باید داسي ګامونه پورته کړم څووکولای شم ستا په ژوند اوحالت کي یوڅرګند بدلون او تغیررامنځ ته کړم. له خدایه شکر چې نن زه له تاسي سره په هغه څه ، په هغه حل چې ستاسي دستونزو لپاره مي موندلي خبرې کوم . اوس داسي وخت دې چې هرهیواد باید په خپل څنګ کي یوملګری اومتحد ولري چې دهغه په مرسته له خپلودښمنانو سره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مقابله وکړای شي. همداده چې تاسي دافغانستان ولس هم باید دخپلو دښمنانو ترڅنګ چې ستاسو لپاره یې ستونزې رامنځ ته کړې باید ښه دوستان هم ولرئ .ټول هیوادونه ډول ډول دښمنان لري ،ځینې داسې دي چې خرابی کوي ، ځینې داسې دي چې په وژنو لاس پورې کوي اودریم داسې چې ستاسې شتمنی له تاسې اخلي .اوس په دغه حال کې باید تاسې ته هغه جزیات وویل شي چې دهغوپه رڼاکې باید خپل دوستان اودښمنان په ښه توګه ووینی . تاسې ته دهغه پوه اوهوښیار سړي خبره په ښه توګه معلومه ده چې ویلی یې دي « هغه څه چې تاسې له منځه وړې باید دهغه چاره مخکې له مخکې وشي » . وګورئ ترڅوچې یوڅه پیښ نه شي دهغه چاره ګرانه ده اوان چې ناشونې ده ،خوپه هرډول ترپیښی دمخه باید دهغې دچارې په باره کې لاس په کارشو.
ددغو دیارلسو کالو په ترڅ کې چې زه دغه هیواد ته راغلی یم ،تاسې زما خبرې اوریدلی اوهغه مو په ښه توګه عملی کړې دي .همداده چې هرډول اسانتیاوې مو هم په برخه شوې دي ،وګورئ تاسې دیوه ملت په توګه له داسې کړو وړو سره عادت شوي یاست چې تردیره حده د زوی اوپلار له اړیکو سره ورته والی لري ، چې دوی دواړه په ډیرو برخوکې دیوه اوبل خبره نه مني اوهمداده چې دغه خبره په زیاترو کورنیوکې دبې اتفاقیو اوستونزو درامنځ ته کیدو لامل کیږي. زما له دندو څخه یوه هم داوه چې تاسې باید په دغو توپیرونو باندې پوه کړم اوهغه باید دلته تل په پام کې ونیسم . نن داده همدغه موضوع راپه ډاګه شوه اوداده دعمل ډګرته راووته ،پخوا تاسې په دې نه پوهیدئ اوزړه نازړه وئ چې ووایی کوم څه سم اوکوم ناسم دي ؟ زه نه غواړم چې نورنو تاسې د زړه نازړه توب پردریځ باندې کاواکې پاتې شئ ، تاسې باید نور په ډاګه یوڅرګند او معلوم ملګری ولرئ داسې چې هغه باید له تاسې سره په هرډول شرایطو کې مل اومرستندوی وي . مرسته باید درسره وکړي ،هغسې مرسته چې دهغې انتظار له دښمن څخه کله هم نه شي کیدای.
کله چې زه په یوه ښه ملګري پسې ګرځم اویاغواړم هغه وموم ، له هغه سره هرڅه شریک کړم نوترهرڅه دمخه زما هیله داده چې له هغه سره خپله پوله معلومه کړم ،زموږ تر منځ ددغه ښه ملګریتوب ترڅنګ باید یوکوچنی شک اوتوپیرهم ددې لامل نه شي چې زموږ ترمنځ دې دستونزو اوشخړو سبب شي .
نن هم هغوی ستاسې ملګري دي چې تاسې دهغوله امله ددغې اوسنې خوښی اوخوشالی لرونکي یاست ، ما له بریتانوي دولت سره په شرایطوبرابري خبرې کړی ، دوی هم له هغه بل ځواک سره چې ددوی په مقابل کې دی خبرې کړي دي اودواړه په یوه تړون سره یوه خوله شوي دي ، ځکه نوهغوي اوس ددې لپاره تیارشوي چې ستاسې په شمالي پوله کې دتوافق لپاره دتیاري پرپوله باندې ودریږي . له روسانو سره دانګریزی دولت دپولواوسرحد خبره ستاسې دهیواد له پولو سره تړلې خبره ده ، ځکه یې په دغه برخه کې هرڅه زموږ خوښې ته راپریښې دي .له دغه چلن سره سم ما له خپل ملګري انګریزي حکومت څخه داهیله وکړه چې زموږ سره د فارس اوهمداسې له چین سره دپولو په ټاکلوکې هم مرستې اوخبرې پیل کړي .
ددغو دیارلسو کالوپه ترڅ کې ما ځان له ګاونډیوسره په خپل پرتم کې وساته ، اجازه مې ورنه کړه چې زموږ ترمنځ دې خبره ان له دښمنانوسره هم جګړې ته ورسیږي ، ددې خبرې یولامل دادی چې ما له خپلوګاونډیانو سره دتفاهم اوجوړجاړی لاره نیولې ده ،په هغه کال چې زه بلخ ته راغلم ما انګریزي حکومت ته وویل، څه چې دپخوانیوامیرانو دنیمګړتیاوو اوڅه هم ستاسې دمامورینودبې پروایی له مخې رامنځ ته شوي اوپایله یې زموږ اوتاسې ترمنځ جګړو ته رسیدلې ده ، له دې وروسته به هغسې کړه وړه زموږ اوتاسې ترمنځ تکرارنه شي اونه به زموږ اوتاسې ترمنځ خبره جګړې ته ورسیږي . له دې وروسته به موږ سره دوستان یواو په دغه برخه کې به دزړه له کومې ګامونه پورته کوو. زما ددې خبرې په وړاندې انګریزي دولت هم په خپله ژمنه باندې ولاړ پاتې شواودیوه اوبل په وړاندې مود دوستې پرلاره حرکت وکړ.ملکي اودانګریزحکومت ګورنرجنرال ماته ډاډ راکړ چې که د دوی په خزانه کې یوه روپۍ هم پاتې وي ، دوی به له موږڅخه خپله مرسته ونه سپموي. اوله موږ سره به ددوستی اویووالي پربنسټ ګامونه پورته کوي .اوس ددغه چلن له مخې موږ ددغه کار لپاره سره یوه خوله شو چې بایدزموږ ترمنځ دپولې خبره هم روښانه وي اوهغه کرښه چې زموږ ترمنځ باید پوله وي هغه باید ددواړودولتو دحکومتونو اوخلکو له خوا دناوړه تفاهم دلرې کولو په خاطرپه ډاګه وي ، زموږ پوله هم باید موږخپله د دریم ګړي له شته والي پرته دملګریتوب اوصمیمیت په فضاکی وټاکله شی ، ځکه چې موږ له یوه اوبل سره ملګري یو، ددې لپاره چې موږ په دغه اړه یوې پایلې ته ورسیږو باید له دوی سره موسرمورتمر اویا کوم بل څوک ددغه کارد ترسره کیدو لپاره منلی وای. دهمدغه کار لپاره وچې ما سرمورتمر دیورند په څولاملونو ومانه :
۱ –یوخوداچې داسړی په دغه برخه کې وړ، برلاسی اوتجربه کارڅوک دی .
۲- په خپلوکړو اوچلند کې رښتینی اوصمیمی دی .
۳ – دپولو اوسرحدونوپه برخه کې دښې تجربی اوځیرکی لرونکی دی. ما اوده په راولپنډۍ کې هم سره لیدلي دي.
۴- په فارسی ژبه هم ښه پوهیږي .
۵– دی ددواړو خواوو لپاره ښه نیت لري ځکه خو زه باوري یم چې له ده څخه به کومه تیروتنه ونه شي. له ده سره همداسې دده په شان یوشمیرنور ځواکمن اوغیرتی زلمي هم ملګري دي.
له خدایه شاکره یم چې موږددغه کارلپاره دسرمورتمردیورند غوندې څوک له ځان سره لرو ، دهغه څه لپاره چې زموږ دښمنان دهغه په وړاندې بندیزونه رامنځ ته کوي اویایې هم نیت دهغه په اړه په دغه برخه کې بل شان دی ،هغوی به خامخا ناخوښ وي.خوموږ باید چې نن په اوچته توګه دخوښی او خوشالی احساس وکړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دپولي ويش په لاندي ډول سره دی :

لومړی ، زموږ دهيواد هغه برخه چې ترآمو راپه ديخوا روسانو نيولي اوهغه برخه چې ترآموهغې خواته زموږ په لاس کې ده ، ديورند وعده کړې چې هغه خوا به د روسانو اودغه خوا به په افغانستان پورې اړه مومي اوماته به يې را سپاري. ماهم له هغه سره داوړانديزومانه ،ماته يې نقشه وايسته اوسرحدی کرښه له (چانک) څخه پر ديخوا تيريږي ،چې دهغې له مخې به کافرستان اواسمار اوهغه اوبه چې کونړ ته ځي هغه به هم په کونړ پورې اړوندې وي ، اوهم به هغه غرونه چې د (شورتان) اومومندو قبايلوپه لورغزيدلي،همدارنګه دسيستان برخه ،هغه چې د کوه ملک سياه په نامه ياده شوې اوان دامیرشیرعلیخان په زمانه کې هم خبرې پرې روانې وې چې تاسې به هم اوريدلي وي. زموږ په اولکه کې راځي .
ما وزيرهغوی چې نه تابع کيدل دوی ته ورکړل .دوی ماته برمله راکړه چې هغه له ځدرانو سره تړلي ده . په دغه ډول داتوله پوله او سيستان په همدې شان سره وويشل شو . تر دې وروسته به له دواړو خواووڅخه کمشنران په دواړو خواووکې داتباعواوسيمې دساتلو په خاطرتاکل کيږي. په دواړو خواو کې به ستنې اونښې دپولې په اوږدوکې ځای پرځای کيږي . سرمورتمر ديورند ما ته يوتړون راکړ چې دده په خپل لاسليک دی اوداپه ګوته کوي چې کله به هم انګريزي ماموران دپولې دغې خواته دمداخلې په سترګوونه ګوري اوماهم يوتړون ورکړ چې موږ به هم کله ترپوله هغې خواته دمداخلې هڅه نه کوو، ځکه چې موږبه خپل دښمنان په ګوته کوو اودهغودمخنيوي لپاره به په ګډه لاس په کارکيږو.
تړونونه پرون لاسليک شول ، زه اوس تاسې خبروم اوتاسې په ننګيلی ژبه اوجدي توګه خبروم چې له دغه ملګري (انګريزانو)پرته بله مرسته اوچاره نشته، زه ډاډه يم چې تاسې به له دغه همیشني ملګري څخه پرته له مرستې ، سړيو، پيسو،وسلواومهماتوبل څه ترلاسه نه کړئ اونه به دوی له يوه پياوړي اوغښتلي افغانستان سره له مرستې پرته بل څه ترسره کړي .
زه تاسې ته په رښتيني توګه دازيري درکوم اوتاسې هم په دې پوهيږئ چې دخدای په مرسته به تاسې ته له دغې دوستۍ څخه زياتې مرستې اوښيګړې درپه برخه شي .» (*)

[سند ۱۹۸،فرنټ ، جنوري ۱۸۹۳ ، دهندملي آرشيف]

دغه وينا امير د ۱۸۹۳ کال دنوامبرپه ۱۳ چې د جمادی الاول له دريمې نيټې سره سمون کوي د ديورند دکرښې له لاسليکه وروسته د دولتي چارواکو يوې غونډې ته په ارګ کې اورولې ده .

په کابل کې په دغه غونډه کې ناست انګريزي استازي ليکي چې له دغې ويناوروسته ټولو حاضرو چارواکو دامیرپه نامه يوه ګډه وينا دده د وينا په تاييد ورکړه چې اعحضرت خپله هغه په دربارکې په لوړغږسره ولوسته .ددغې وينا ديوې برخې ژباړه داسې ده :

« ويارلی او مبارک ذات اعلحضرته ، موږ ټول ترتا قربان يو!

موږ ستا اعلحضرت خادمان، ټول ولس ، داسلام لوی او واړه ، د ا په ډاګه کوو چې ، دا زموږ له توانه لوړه ده چې په خپله وړتيا سره له ټولواکمن څخه خپلې مننې څرګندې کړو ، له هغه چا څخه چې په ايمان او مذهب باندې دزړه له کومې باورې او موږ يې تل له زړه سويواومهربانيوڅخه بې برخې نه وو.

لومړی : د محمد (ص) د سپيڅلې مذهب داصولوپرښتې دا پرموږ لازمه ده چې د اسلام د پاچا تابعداراومنندوی وو، هغه پاچا چې زموږ دمذهب ساتونکی او زموږ دټولو خلکو دسترو ګټوپاسوال او مدافع دی .

دويم : پرپورتنيو يادو شويو ټکو برسيره داتياکلونو په اوږدو کې ، موږ او زموږ څلورپښته پلرونه ستا دکورنۍ له نمک خورنې ، لورينې او مهربانيوڅخه برخمن وو ، او زموږ نوم او عزت دواړه په دنياوی اومذهبي لحاظ د امير عبدالرحمان خان زموږ اوسني پاچا او دده دڅلورپښته پلرونو په پاملرنې سره ساتل شوی او پالل شوي دي.ځکه نو موږ هم اوس او هم په تيرو کې د دوی ترپناه لاندې دپرديو له تيريواوظلمونوخوندي ساتل شوي يو... » (پورتني سند)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

داچي د ديورند کرښه امیرلاسلیک کړې په دې کې دشک څه نشته ، خوداچې یوشمیربیا وایي چې دغه سند یا دالاسلیک شوی تړون له سره نشته دابیا یوه بله درامه ده ، په تیره یوه لسیزه کې چې د تش په نامه اوقلابي دموکراسي نوم اوخونړی شمال زموږ پر هیواد را لګیدلی او په لسګونه تلویزیونه اورادیوګاني دعوام غولوني په موخه دامریکایی ډالرو په خرابات سره فعال شوي ، دوی ددې لپاره چې نه کاري کادرونه لري اونه هم یو منظم ملي مطبوعاتي لارښود لري،هرکس او ناکس کینوي او دافغانستان دتاریخ دمسخ کولو پر لامل مرکي ورسره کوي ، په دغو یارانو کې یوشمیرداسي هم دي چې حق اوناحق دخلکو اذهان دحقایقو پرځای په درواغولړي اوهغه څه له مطبوعاتو سره وایي چې نه یې منطق مني ، نه یې اسناد مني ، نه دوست مني او نه هم دښمن ، همداده چې زه بیاهم دغو یارانو ته په ډاګه وایم چې که د دیورند سند امیر لاسلیک کړی وي او که نه داپه دغه برخه کې زموږ ددرد درملنه نه ده ، زموږ لپاره په دغه اړه د استاد سیستاني خبره د (هدفمند مستبد) واکمن دریځ او معامله زموږ ترتاریخی او جغرافیایی شته والي نه مهم دي او نه هم په درنه سترګه ورته ګورو . موږ د دیورند داتلس لکې معاملې په اړه په دې ګرد سره باوري یو ، لکه چې د امیر په تاریخي ویناکي هم اشاره ورته وشوه چې ددغې معاملې اود اروابناد غبار په قول (مړې کرښې) کاغذونه امیر لاسلیک کړي ددغې معاملې له لاسلیک څخه یوه میاشت وروسته مکار دیورند امیرته یو لیک را ولیږه چې دهغه لوستل هم له ګټې خالي نه دي په دغه لیک کې دیورند په خورا مهارت سره دامیر په وړاندې دغه ټکی ته اشاره کړې چې ګواکی ستا برخلیک له پخوا څخه زموږ په لاس کې و ، اوس هم زموږ په واک کې دی ،کومه پوله چې ته یې بایدتر اکسوس ورهغه خوا دځان وبولې هغه هم موږ درته وټاکله، لیک داسې دی :

« له درناویو وروسته ،

کله چې تاسې عالیجناب دافغانستان پرتخت کیناستی ، سرلیف ګریفن ته لارښونه شوې وه چې تاسې په دې ډاډه کړي چې که هرخارجی ځواک داهڅه وکړی چې په افغانستان کې مداخله وکړي ، اویادا نیت ولري چې ستاسې عالیجناب پرقلمرو باندې دبې مانا تیري په فکرکې شي ، په دغه حال کی به د انګریزي حکومت دنده وي چې ستاسې عالیجناب مرستې ته دروداني او دهغه مخنیوی به وکړي اوهم به انګریزي سرکار له تاسې عالجناب سره ستاسې دباندنیواړیکو په برخه کې هرډول مشوره کوي.

زه غواړم په ډیردرناوي سره تاسې عالجناب ته ووایم او ډاډ درکړم چې دغه ژمنه به په خپله پیاوړتیاسره پاتې وي اوپه عمل کې به داستاسې دخاوري دتمامیت دهغې برخې په اړه چې دننې تړون په پایله کې به داکسوس دپولې په اړه ستاسې په واک کې وي په عمل کې په پام کې نیول کیږي . داد انګریزدولت دزړه له کومې لیوالتیا ده چې دافغانستان هغه برخه چې تراوسه پورې نه ده په نښه ، اوس باید دغه برخه په روښانه توګه څرګنده شی ،کله چې دغه برخه په نښه کیږي ، په دغه حال کې به ستاسې پوله د روسیې پر خوا هم په مساوي توګه له شکه وتلې او خوندي وي . دیورند » (دهند ملي آرشیف ، سکریت اف ، شمیره ۱۰۷ د ۱۸۹۴ کال جنوری)

اوپه پای کې پردغه ټکي باید د زړه له کومې باور ولرو چې دیورند موضوع په تاریخي ، حقوقي ، جغرافیایي ، ژبني ، مذهبي او قومي لحاظ څه ساده موضوع نه ده، داموضوع ترهرڅه دمخه زموږ دقیق ملي دریځ او ثبات ته اړتیا لري ، موږ نه شو کولای چې دیورند په زاریوله منځه یوسواویایی په درواغو ومنو، ددغه کار لپاره یو پراخ نړیوال انساني اوافغاني کمپاین په کاردی چې باید ترهرڅه دمخه ددغې تاریخي غمیزې پرتاریخي ، حقوقي ، جغرافیایی اوبشري ضد ماهیت باندې ترسره شي ، په دغه اړه باید نړیوال ذهنیت لومړي قانع کړشي او بیا دسیمې تاریخ باید ددوی مخې ته کیښودل شي ، څوموږله هغوی څخه دخپلې برحقې داعیې د حقانیت او رښتیاینې په موخه مرسته او ملاتړ وغوښتلای شو. سمه ده چې موږ ددغې داعیې لپاره اوږده مبارزه یوازې په تبلیغاتي توګه ترسره کړې ده، اوس هم لویدیزپه تیره بیا امریکا موږ ته پردیورند باندې دقضاوت کولو، منلواویانه منلو په اړه د مطبوعاتو ترکچې لوړواک نه راکوي ، اوس هم لویدیز له دغې تاریخي داعیې څخه یوازې یوه تبلیغاتي موضوع جوړه کړي ، چې عملاً موږ په دغه برخه کې نه انفرادي او نه هم ډله ییزه اراده په ډاګه کولای شو. ځکه خو موږ باید پردغه ټکي اعتراف وکړو چې څه موږ تراوسه ترسره کړي اوس موږ پردې پوهیږو چې دا تریوه حده تاکتکي اولنډ موخې مبارزه وه چې یوازې دافغانستان له پولودباندې ونه وته ، باوردی چې پردغه ناسورزخم دافغانستان ، انګریزجوړکړي هیواد (پاکستان) او هند له سیاستوالو پرته نورڅوک ډیرلږ پوهیږي ، انګریزاو امریکا او نور لویدیزڅواکونه دغې سیمې ته یوازې د نړۍ دنقشې له مخې ګوري چې ګواکې دیورند لین یوازې دوې خواوې لري چې یوه خوایی پاکستان او بله خوایی افغانستان دی دوی که کله د مطبوعاتو پرمخ تبلیغات هم لولي، پرته له دې چې دهغو تاریخي اوجغرافیایی عمق ته ځیرشي هغو ته یوازې دنړیوالي پولې له

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عینکوګوري له بده مرغه ډیرلږ نړیوال پردغه ټکي پوهیږي لکه چې لاهورمیشتی خارجي لیکوال ددغې موضوع عمق ته ورننوتی او لیکي :

“ The agreement was forced upon the Afghan King Abdul Rahman Khan after negotiations with the British government in 1893. Secondly, it was signed only for a period of 100 years, which expired in 1994. And thirdly, the agreement was made with the British government and not with Pakistan, hence making it invalid

now.” (ttps://www.quora.com/What-is-the-Durand-Line-in-Pakistan)

« دغه تړون پرافغان واکمن عبدالرحمان باندې په ۱۸۹۳ کال کې له بریتانوي حکومت سره له خبرو او مذاکرو وروسته په زور وتپل شو. دویم داچې دا تړون یوازې د سلو کالو لپاره لاسلیک شوی و، کوم چې هغه په ۱۹۹۴ کال نورپاي ته ورسید. او دریم داچې د غه تړون له بریتانوي حکومت سره لاسلیک شوی و نه له پاکستان سره ، ځکه خو اوس نور د باور وړ نه دی . »

موږ په دغه برخه کې تراوسه یو ګام هم نه دې پورته کړې ، په تیرو پنځلسو کالو کې سره له دې چې افغانستان دنړیوالو ځواکونو له خوا نیول شوی ، هیڅا هم دوی ته ونه ویل چې په دغه برخه کې باید دوی دافغانستان له ولس سره مرسته وکړي، له بده مرغه چې په دغه برخه کې یوه نړیواله غونډه ، کنفرانس نه په هیواد کې دننه او نه هم دباندې ونیول شول. برعکس د دوی ټول ځواک پردغه ټکي باندې متمرکزشو چې دوی څنګه افغان ولس په وړو کورنیو مسایلو کې را ښکیل وساتي ، په هیواد کې دننه له اوږدې مودې راپه دیخوا دلږکیو تنګنظري ځیرې چې دخارجیانو له خوا تمویل کیږي او په لوی لاس په ملي کچه ستونزې را ایجادوي په دې باوري دي چې دا کرښه باید درسمي پولې په توګه دافغانستان دولت او حکومت چې صلاحیت یی نه لري په رسمیت وپیژني . همداسې په پاکستان کې دهغه ځای دخلکو احساس په دغه اړه ګردسره بیل دی، ان چې په خپله په پښتونخوا کې هم دپښتنو دحق خود ارادیت دمبارزې پلویان تردغه دمه په دغه باره کې په دوه لارې کې ولاړدي ، هغو ی هم دیوه واحد افغانستان ، یا واحدې پښتونخوا په باره کې نه فکرکوي او نه هم په عملي توګه داسې یوه جوړښت ته پرمیدان دریدلي دي ، په دغه برخه کې هماغسې چې هندوستان په دوو برخو دانګریزیپه زور اوخوښه وویشل شو، همداسې په کارده چې دلته هم یونړیوال ځواک دیوه واحد افغانستان اویا واحدې پښتونخوا ترشاه ودریږی او عملاً یې له نړیوالو ټولنو لکه ملګرو ملتو اونوروړوندو سازمانواو هیوادو له خوایې دیوه نړیوال توافق په ترڅ کې ملاتړوشي ، ارواښاد پژواک ډیره هڅه وکړه چې دملګرو ملتو دسازمان له ستیجه پردغه موضوع باندې یو پرله پسې بحث راپورته کړي، داموضوع دیوې جدی مسالې په توګه په دغه نړیوال سازمان کې دده په همت مطرح هم شوه خو څنګه چې هیله کیده داسې یو څرګند ملاتړ لکه څنګه چې دلویو ځواکونو اجندا او خوښه نه وه په نړیواله کچه تري ونه شو. دارواښاد پژواک خپله خبره ده چې ماته یې په پیښورکې په دغه اړه زما دپوښتنې په ترڅ کې وکړه : « له بده مرغه چې ما دلومړي ځل لپاره داموضوع په ملګروملتو کې د سردارنعیم خان او داود خان په مرسته راپورته کړه ،خولوی ځواکونو په تیره انګریزان اوامریکا چې دپاکستان هم پیمان وو په دغه اړه له موږ سره ونه دریدل ، یوازې هندوستان او تریوه حده شورویان راسره وو، مهمه داوه چې زموږ د دولت اوملت له خوا باید د پښتونستان مساله په ملګروملتواو نړیواله کچه کې دومره جدي څارل شوې وای لکه د کشمیرمساله، په هغه حالت کې افغانستا ن کولای شول چې په دغه برخه کې یې څرګند پرمختګ کړی وای ، خو له بده مرغه چې موږ ته دغه بری راپه برخه نه شو، ما دا خبره په خپل وخت کې دومره کړه چې نړیوالو ته مو وښوده چې له دیورنده پرهغه خوا سیمه زموږ تاریخي ملکیت دی موږ دخپل دغه ملکیت د خپلولو او خپلواک کولو لپاره مبارزه کوو » (له استاد پژواک سره دکتني پرمهال – پیښور حیات آباد د ۱۳۷۲ کال دحوت ۲۸)

په هرصورت نورزیات پرجزیاتو باندې نه غږیږم ، یوازې دومره وایم چې دیورند له شکه پرته ، سره له دې چې د ځمکې پرمخ تراوسه هم دپوښتنې وړ کرښه ده ، او په دواړو لوریو کې یې خلک نه مني خو دکاغذ پرمخ هم امیر او هم انګریزانو منلې ده ، هم امیر لاسلیک کړې او هم له انګریزانو سره شته ، ترهغه وخته چې انګریزان پرهندوستان واکمن وو دغه سند لاهم په هند کې ساتل کیده ، خو کله چې دوی له هنده ووتل ، دغه سند یې له ځان سره لیږدولی دی ، په ۱۹۴۳ میلادي کال (کیر پریسر ټایټلر) غوښتل دافغانستان په اړه یو کتا ب ولیکي په دغه اړه ده د دیورند دتړون په ګډون دیولړاسنادوغوښتنه له انګریزي حکومت څخه کړي ده ،دوی دده دغې غوښتنې ته په ځواب کې یو لیک لیکلي دی چې دلته یې ددغه څېړکې په پای کې له تاسو درنو لوستونکواو څېړنکو سره شریکوم :

“ Sir Kerr,Fraser –Tytler is at present engaged in writing a hand book on Afghanistan in the series of geographical hard books prepared by Naval Intelligence Division of the Admiralty…

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

He has now asked to see the Durand agreement and the connected papers, but unfortunately our papers are bound in large and heavy tomes which are quite unsuitable to send to Scotland , where Sir Kerr is working. (N.A.I. external Deptt, ,17 July 1943, No 586.f

« سر کیر فریسر ټایټلر ، نیت لري چې د سمندري استخباراتو لپاره د جغرافیې په برخه کې یو هند بوک ولیکي ... ده په همدغه لامل غوښتنه کړې چې د دیورند تړون اونوراړوند اسناد وګوری، خو له بده مرغه چې زموږ کاغذونه ا واسناد ټول په لویواو درنو دوسیواو کارتنو کې ځای پرځای شوي چې سکاټلند ته هلته چې سرکیري کارکوي دهغواستول زموږ لپاره ناشوني دي. »

پردې برسیره دیوه امانت په توګه په دغه اړه باید د هیواد د نامتو لیکوال اروابناد محمد ابراهیم عطایی صاحب چې د اشرارو او کابل ورانونکو ځواکونو په دوران کې زه اودې په کابل کې محاصره وو خبره هم دلته دیادولو وړبولم او هغه داچې استاد عطایی پرهغه مهال چې اروابناد پژواک غوښتل دا موضوع په ملګرو ملتو کې مطرح کړي له افغان دولت څخه هیله وکړه چې ددغې داعیې په اړه یومستقل علمی تحقیق رامنځ ته او زر ترزره یې چاپ کړي ، عطایی صاحب ویل چې « مرحوم نعیم خان په دغه اړه ټول اسناد په خارجه وزارت کې دننه زما په واک کې راکول اوما به لیکل ، ان چې دشپې به هم هلته ورته پاتې کیدم . یومهال ددې اړتیا پیداشوه چې باید د دیورند سند مې هم کتلي وای، کله چې ما داخبره وریاده کړه ، سردار صاحب راته وویل چې دهغه دلیدواجازه نشته ، نورټول اسناد ستا په واک کې دي پرته له هغه ... »
دغه یادونه اود اروابناد عطایی صاحب خبره دا په ډاګه کوي چې د دیورند لاسلیک شوي سند له موږ سره هم شته ، داچې چا لیدلی او که نه دایوبیل بحث دی چې دهیواد په مسوولینو پورې اړه لري . د خارجه چارو وزارت له یوشمیر باوري کسانو څخه مې اوریدلی چې د شورای نظا رد تالان پرمهال ځینو کسانو هڅه کړې وه چې یوشمیر الماري پردغه سند پسې وپلټي ، ان یوچا چې آمرمسعود له همکارانوڅخه و دا هم راته وویل چې یولړ اسناد له الماری څخه تر بام پورې پورته کړل شوي ځویی په یوه مناسب وخت له هغه ځایه وباسی چې بیا وروسته یو شمیرمسوول کسان لکه احمدشاه مسعود ورباندې خبرشوي وواوهغه اسناد چې ویل کیدل د دیورند سند هم په کې وبیرته په ځآنګړو الماریوکې ځای پرځای کړي وو(والله اعلم)

******

خپلواکي د ویښو او بیدارو خلکو لپاره ده ، نه د خوبولیو او بې پرواوو لپاره !

مهاتما ګاندي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ